يوه له هغو ويناوو څخه چې خلکو ته له لومړي نبوت څخه پاتې ده دا ده: 'کله چې حيا نه کوې، نو هر څه چې وغواړې هغه وکړه

د ابی مسعود عقبة بن عمرو الأنصاري البدري رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله وفرمايل: "يوه له هغو ويناوو څخه چې خلکو ته له لومړي نبوت څخه پاتې ده دا ده: 'کله چې حيا نه کوې، نو هر څه چې وغواړې هغه وکړه".

[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: هغه څه چې له پخوانيو پېغمبرانو څخه يې په اړه خلکو ته وصيت راپاتې دی او د خلکو تر منځ اوړي را اوړي او پيړۍ پر پيړۍ يې يو بل ته په ميراث پريښی، تر دې چې د دې امت سر ته راورسيد دا دی چې، هغه څه ته وګوره چې غواړې ويې کړې، که چيرته داسې يو کار و چې کول يې شرم نه و، نو ويې کړه، او که داسې و چې کول يې شرم و نو پرې يې ږده؛ ځکه چې له بدو کارونو څخه يوازې حيا منع کول کوي، او څوک چې حيا و نه لري، نو په هر بد او ناوړه کار کې ښکيل کيږي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66523